# د افغانستان په شمال کې د تورتم واکمني

**Author:** Abdul Latif Sahak

د برښنا دانتقال لپاره دنوي لینونو نشتوالی دبلخ ولایت مرکز مزارشریف ښار په تورتم کې اوسی

په افغانستان کې د آی ډبلیو پي آر د خبریال، عبداللطیف سهاک لیکنه

سره لدې چې د افغانستان شمال ته پروت ښار په پرتله ییز ډول له امنیت او د انرژ له ځینو سرچینو یو څه برخمن دی، خو اوسیدونکي یې وایي د ورځې یوازې څو ساعته برښنا ور رسیږي.

د اوړي د موسم د تودوښې پر ستونزو سربېره د برښنا د نشتوالي له امله خوراکي توکي یخ نه ساتل کیږی او د ناروغیو د رامنځته کېدو لامل کیږي.

اوسیدونکي له دې امله سخت په غوسه دي، افغانستان ته د بې خېرته مرستو په رارسیدو [حکومت] ونشو کړای د اړتیا وړ برښنا چمتو کړي، چې د اقتصادي پراختیا اصلي بنسټ ګڼل کیږي.

د مزارشریف اوسیدونکي په څلرویشتو ساعتونو کې یوازې درې ساعته برښنا لري. د فریدون په نامه یو اوسیدونکي له آی ډبلیو پي آر سره په یوې مرکې کې وویل، د ورځې یو ساعت برښنا لري، خو هغه هم بیا دومره کمزورې وي، چې یخچال نشي چالانولای.

فریدون په داسې حال کې چې د خپل کاله په مخکې تر یوې ونې لاندې ناست و او ځانته یې پکی واهه، وویل: «ګوري، سره له دې چې زه غټ سړی یم، خو دې ګرم ته نشم ټینګېدای، نو ماشومان به څنګه ورته ټینګ شي؟ ټوله شپه مې ماشومانو ته پکی وهم. کله ناکله ضعف را باندې راځي . که برښنا وای، نو دا ستونزې به مې نه درلودې، ځکه [برقي] بادپکی او یخچال لرم.»

فریدون سیمه ییز حکومت پړ بولي او وایي: «د خدای لپاره، د ولایت هرچارواکي له لسو کلونو راهیسې پر څوکیو ګېډه اچولې، ته به وایې په میراث ورته پاتې دي. که کا رنښي کولای، باید ځایونه نورو ته پریږدي!»

د ښار صنعتکاران وایي هغوی تولید بندوي او یا یې تړلو ته اړایستل کیږي، ځکه خپل ماشینونه نشي چلولای.

خواجه امیر دې ته ګوته ونیوله چې څنګه یې درې میاشتې دمخه خپله د پلاستیک جوړولو فابریکه ودروله.

هغه وویل: «زه د برښنا د کمبوت له امله د خپلې فابریکې تړلو ته اړ شوم. ځکه د ډیزلي جنراتورونو په کارولو د توکو بیه لوړیده، چې بیا یې اخیستلو ته د خلکو وس نه رسیده.»

خواجه امیر وویل، هغه دې ته اړ شو، چې شاوخوا سلو تنو کارګرانو ته ځواب ورکړي.

هغه وویل: «حکومت نه غواړي چې د خلکو د بېروزګار ستونزه هواره کړي... د سیمه ییزو تولیداتو مرسته نه کوي، د هغې ترڅنګ بهرنیو تولیداتو ته لاره پرانیزي.»

فقیر محمد د کنګل (یخ) جوړولو فابریکه لري. هغه ته د تقاضا د زیاتوالي پته لګېدلې. هغه د برښنا د تولید ډیزلي جنراتورونو کاروي او د پلورلو بیه یې دوه هومره لوړه کړې ده.

هغه وویل: «سره له دې چې تېل ګران دي، خو جنراتورونه کاروو. زیاته ګټه نه کوو، خو باید د کنګل تولید ته دوام ورکړو، ځکه خلک ورته ډېره اړتیا لري.»

د بلخ ولایت د صنایعو د خونو مشر، سید طاهر روشن زاده وویل، لسګونه فابریکې، چې توکي یې تولیدول، [تازه] مېوې یې بسته بندي کولې او غیر الکولي څښاک یې تولیداوه، تړل شوي او په زرګونه خلک یې بېروزګاره کړی دي.

هغه وویل: «د برښنا کمبوت د افغاني توکو بیې لوړې کړي دي. هیڅوک یې نه اخلي. کله چې ونه پلورل شي، خاوند یې مجبوریږي، چې خپله فابریکه وتړي.»

روشن زاده وویل، د برښنا نشتوالی د راتلونکي پانګې اچونې په مخکې خنډونه جوړوي، که دا نه وي، د افغانستان په دې نسبتا کراره سیمه کې د هغې د غوړېدا امکانات ډېر دي.

په عین حال کې، د عامې روغتیا او چاپېریال ساتنې د ادارو چارواکي خبرداری ورکوی، چې د برښنا د کمبوت له امله به د ماشومانو ناروغي نوره هم زیاته شي.

د کوچنیانود ناروغیو ماهر، ډاکتر احمد فروغ وویل، هره ورځ زیات شمېر کوچنیان د مزارشریف په روغتون کې د نس ناستې، د بدن د اوبو د کموالي او د زهري خوراکي توکو د خوړو له امله بستریږي.

هغه وویل: «زیاتره کورن باسي [د شپې یا غرمې پاته شوي] خواړه خوري. نوموړي خواړه د یخچالونو د نشتوالي له امله خراب او د ناروغیو لامل کیږي.»

په مزارشریف کې د چاپېریال د ساتنې رئیس، غلام نبي خرمي وویل، د فابریکو، صنعتکارانو او کورنیو له خوا د ډیزلي جنراتورونو زیاتې کارونې هوا ډېره ککړه کړې ده. دا پخپله د ناروغیو یوه بله سرچینه ده. همدارنګه د تودو سیمو هوا نوره هم پسې تودوي.

بلخ د نورو ولایتونو په پرتله نېکمرغه دی، ځکه له ګاونډي هېواد، ازبکستان څخه ورته د اوږدې مودې هلو ځلو له امله برښنا راغلې ده. له دې امله په مزارشریف کې ستونزه د برښنا

نشتوالی نه دی، بلکې ستونزه داده چې د برښنا زړې او له کاره لويدلې شبکې د برښنا د ويش ظرفيت او توان له لاسه ورکړی دی.

چارواکي وايي، دستګاه تر شلو ميګاواټو پورې د برښنا د ساتلو ظرفيت لري. هغه بايد ورغاول شي، ترڅو اويا ميګاواټه تقاضا پوره کړي.

د بلخ ولايت د برښنا رئيس، انجنير نصير وويل، سيمه ييزو سب ستيشنونو ته لازمه کچه  برښنا رسيږي، خو د ښار د برښنا اووه ويشت کلن زوړ سيستم نشي کولای ټولو برخو ته په سم ډول د اړتيا وړ برښنا ورسوي.

په ۲۰۰۸ کال کې د افغانستان د اوبو او برښنا وزارت د نړيوال بانک د ۲۳  مليونو ډالرو په مرسته د مزارشريف د برښنا د شبکې د سيستم د نوي کولو په اړه له افغاني او هندي دوو شرکتونو سره يو تړون لاسليک کړ.

نوموړې پروژه به لا بشپړيږي.

انجنير نصير وويل، د نوموړو دوو قراردادیانو تر منځ د کيفيت د څرنګوالي په اړه د رامنځته شوو نانډريو له امله کار په ټپه ولاړ دی. د کار د څارنې لپاره يو جرمني شرکت رابلل شوی دی.

د څارنې د کار د ډلې مشر، انجنير ګيلرمو سياپنو د نانډريو د راولاړيدو پخلی کوي،وايي: «موږ افغاني او هندي شرکتونو ته تر هغې د کار د دوام اجازه نه ورکوو، تر څو خپل کارله  عالي ستنډرډ سره سم نه کړي.»

هندي قراردادي، (ATPS) مرکې ته حاضر نشو، خو د افغاني شرکت (A-T-SL)  مشر، محمدظاهر پر بيروکراسۍ او د سيمه ييزو حکومتي چارواکو په نه همکارۍ پړه واچوله. هغه وويل د پروژې جرمني پلټونکو هغه مهال انديښنه څرګنده نه کړه، چې د برښنا ۱۸۰۰ ستنې او نوي مزي غځول کېدل، له هغې وروسته يې د کيفيت موضوع راپورته کړه. دا ددې معنا لري چې کار بايد بېرته له سره په زياتې بيې ترسر ه شي.

په عين حال کې د اوبو او برښنا وزارت نوموړي دوه شرکتونه پر خپل وخت د کار د نه سرته رسولو له امله دوه مليونه ډالره جريمه کړي دي. هغه زياته کړه: «که کارونه همداسې دوام ومومي، موږ به د کار د سرته رسولو توان ونه لرو.»

د برښنا کمبوت او له هغې سره مل ستونزې يوازې په بلخ پورې محدودې نه دي، هر بل ولايت  او پلازمېنه، کابل هم د برښنا پرچاوي او يا محدوده برښنا لري.

د اوبو بندونه  شته او د ځواب جوګه دي، خو هغه ډېر پخواني او زاړه دي.  هغه پروژې، چې بايد نوې جوړې شي او يا زړې هغه له سره ورغاول شي، د طالبانو د روان بغاوت له امله له خنډونو سره مخامخ دي.  زياتره خلک په دې اند دي چې ګاونډي دولتونه، نه غواړي هغوی ته له پولې څخه دې خوا د ورتلونکو اوبو د کچې لړوالی وګوري. (ددې ادعاوو په اړه  د زياتو معلوماتو لپاره وګورئ: ايران د برښنا د افغاني بند د بيارغاولو د کارونو پر ګډوډولو تورن دی او ايران د افغان بند د رغاولو د کارونو دودرولو پر هڅو تورن دی.)

**:Location** Pakistan
Afghanistan
**:Topic** Economy

---

**Source URL:** https://iwpr.net/ps/global-voices/%D8%AF-%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86-%D9%BE%D9%87-%D8%B4%D9%85%D8%A7%D9%84-%DA%A9%DB%90-%D8%AF-%D8%AA%D9%88%D8%B1%D8%AA%D9%85-%D9%88%D8%A7%DA%A9%D9%85%D9%86%D9%8A